پوهندوی آصف بهاند
۲۰۱۷/۰۲/۱۲

# یرغل ننګیال

## کوچنی لیکوال، لوی فکر

## لومړۍ برخه

د دې باغ ګلونه لړ نه دي خــوشاله
تـازه تر، تر تازه ترو، نور غوړېږي
(خوشال خټک)






کله چې د وطني جګړې د اور تاو ته ټینګ نه شوم او د وطن پرېښودو ته اړ شوم، نو مې په اروپا کې د خپلو فرهنګي هڅو په لړ کې، د دویم ځل له پاره د ماشومانو، کوچنیانو او په ټول کې د نوي نسل د روزلو په موخه، د کوچنیانو د ادبیاتو څېړنو ته بیا ملا وتړله او د مقالو د لیکلو او خپرولو لړۍ مې پیل کړه. د دې مقلو په لومړۍ برخه کې مې یو ځای [داسې](#) لیکلي وو:

**«دې ته مو پام وي چې رهبران نه شنه کیږي او نه هم له آسمانه رالوېږي، بلکې همدغه د نن ورځې ماشومان دسبا مور پالر هم دي، رهبران هم دي، مخترعین هم دي، خاینین هم دي، جګړه مار هم دي، سوله خوښونکي هم دي او په پای کې د دې دنیا ورانونکي او جوړونکي هم دي.»**

همدې موضوع ته په پام سره که د چا پام وي که نه وي، ماشومان او کوچنیان د هرې ټولنې راتلونکې ده. په هغو ټولنو کې چې دې مهمې موضوع ته پام شوی دی، د هغوی راتلونکي نسلونه ښاد او آباد دي او په سمه لار روان دي او په هغو ټولنو کې چې نوی نسل ارزښت نه لري، د روزنې او تربیې یې څوک نه وي، داسې به وي لکه زموږ ټولنه، دا چې تر نن پورې موږ پر سمه لار نه سیخیږو، یو لوی او اصلي دلیل یې دا دی چې موږ خپل ماشومان، خپل کوچنیان او خپل راتلونکی نسل له پامه غورځولی او ښونې روزنې ته مو پام نه دی کړی، نه یوازې مو پام نه دی ور ته کړی، بلکې د هغوی طبعي او عادي انساني حقونه مو ور نه اخیستي دي. که مو د دوی روزنه په سمه توګه کړې وای، اوس به هر څه سم وو. که اوس هم د نوي نسل روزلو ته بیا پام و نه کړو، نو څو نور نسلونه او ډېر کلونه به زموږ راتلونکي نسلونه له نورو راټوکیدونکو ستونزو سره لاس ګریوان وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

ځومره چي موږ د خپل نوي نسل حقونه تر پښو لاندي کوو، هغوی به له دې هم زيات له عقدو او رنګارنګ مرضونو نه ډک، راتلونکي ټولني ته ور روان وي، بيا نو مسؤليت د هغه ماشوم او کوچني نه، بلکي د مشرانو او واکدارانو دی.
د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ د مياشتي په يو ديرشمه (۳۱) نيټه لومړی د آرش ننګيال په فيسبوک پاڼه کي دا مطلب خپور شو چي د ديارلس کلن يرغل ننګيال په ګوتو ليکل شوی کتاب (راځئ چي وشميرو) چاپ شو. دا د آرش ننګيال په فيسبوک کي د ياد خبر يوه برخه ده:

«زما د زوی کتاب چاپ شو...!
«راځئ چي و شمېرو» د يرغل د شعرونو کتاب دی چي د «سيف ده چلډرن» موسسي له خوا په رنګه او تصويري شکل چاپ شو .
ما ته؛ يرغل ته او د کتاب او ادب مينوالو ته دي مبارک وي...»

په فيسبوک کي له دې خبر وروسته، په بي بي سي پښتو کي د «د ماشوم ادبياتو نوي ۸۰ کتابونه افغان ماشوم ته څه لري؟» تر سر ليک لاندي يو ګزارش خپور شو، چي د «سېو د چلډرن» له لوري د ماشومانو او کوچنيانو له پاره اتيا عنوانه کتابونه چاپ شوي دي.

په دې اتياوو کتابونو کي د يرغل ننګيال کتاب (راځئ چي وشميرو) هم شامل دی. په دې ګزارش کي د يادو اتيا کتابونو د شکل او محتوی په باب ښاغلي غزا نور په زړه پوري بحث کړی دی چي له موضوع سره د مهم والي په پار يې ځيني برخي دلته را نقلوم:

«د ماشومانو ملاتړي موسسي (سېو د چلډرن) په دې وروستيو کي په يو ځای اتيا کتابونه د ماشومانو لپاره چاپ کړي چي د کابل، ننګرهار، بلخ او کندوز په ګډون په يوولسو ولايتونو کي پر ښوونځيو وېشل کيږي.
د دې اداري د ښووني او روزني برخي سلاکار بهير وياړ وايي، هر يو کتاب يې تر څلور نيم زرو ټوکو پوري چاپ شوی دی.

د نوموړي په خبره، کتابونه پر ښوونيزو ادارو سربېره په کليو کي هم وېشل کيږي...
دا کتابونه په څلورو کټګوريو يا برخو وېشل شوي، لومړۍ کټګوري له ښوونځي مخکي هلکانو لپاره ليکل شوي، چي وړکتون کي زدکړې کوي. دويمه کټګوري د اول او دويم، دريمه کټګوري د دريم او څلورم او څلورمه کټګوري د پنځم او شپږم ټولګي د زدکوونکو لپاره ليکل شوي دي.

د کټګوريو له مخي د کتابونو متن هم په پام کي نيول شوی دی، د لومړۍ کټګورۍ کتابونه ډېر کم متن لري، خو ګام په ګام دا متن تر څلورمي کټګورۍ زيات شوی دی.

په دې کتابونو کي ژبه تر ډېره د ماشومانو له سويې سره سمه راغلې ده. د بېلګي په ډول د لومړۍ کټګورۍ کتاب (د فيل بچی) په ۱۳ مخونو کي ليکل شوی او د کيسي ټول متن نږدې ۲۰۰ کليمې دی...

دا کتابونه پر کومو موضوعاتو ليکل شوي؟

افغان ليکوال او کره کتونکی محب زغم چي د دې لړۍ د کيسو د غوراوي بهير يې له نږدې څارلی وايي، دا کتابونه يوه له بل سره پر خواخوږي، له بل سره پر مرسته، د متفاوتو مفکورو پر زغملو را څرخي.

د هغه په خبره، له چاپېريال سره خواخوږي او مينه پيدا، د چاپېريال خوندي او پاک ساتل او له ونو، بوټو او ژوو سره خواخوږي هم د دې کتابونو موضوع ده: "څکه موږ پوهېږو، چي انسان په داسي نړۍ کي اوسېږي، چي دغه ټول ژوي، وني بوټي او نور سره تړلي او يو ته زيان رسول په لويه کي دغه ټول ځنځير ته زيان رسول دي، دا هغه موضوعات دي چي ماشوم يې بايد زده کړي."

د ماشوم ادبيات کوچنيانو ته څه ګټې لري؟

نوموړی وايي، که دا کتابونه بيا بيا چاپېږي او ماشومان يې لولي او دا لړۍ روانه وي راتلونکی ماشوم به تر نننی ماشوم توپير ولري.

د ښاغلي زغم په خبره، د ماشوم ادبياتو کتابونه له زدکړو سره د ماشوم مينه زياتوي او فکر يې وده کوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

"ماشومانو ته د کتابونو چاپولو څو کتې لري، يو دا چې ماشوم کيسي ته اړتيا لري، تخيل يې روزي، تخيل ته يې وده ور کوي، استدلال منطق او تفکر پکې پياوړي کوي."

د نوموړي په اند د داسي کتابونو په لوستلو سره د ماشوم له ليک لوست سره مينه زياتيږي: "هغه کتاب چې کيسه او شعر لري، ماشوم ته په زړه پورې وي، ځکه يې له نورو کتابونو سره مينه زياتيږي، دا کتابونه رنګه وي، په مټ يې ماشوم مختلف رنګونه پيژني، د شيانو د جسامت په هکله غير شعوري فکر پيدا کوي، د شکلونو او ادعدادو باره کې هم معلومات تر لاسه کوي."

هغه دا هم وايي، د ماشوم ادبياتو په لوستلو سره سره ماشوم د ژبې مهارتونه زده کوي، د کليمو او جملو جوړښت پيژني، که يې لويان ورته لولي د کليمو سم تلفظ زدکوي او هم نوي کليمي زده کوي چې ور سره د لغاتو پانګه زياتيږي.

د ښاغلي زغم په خبره، هغه ماشوم چې دا کتابونه لولي تر هغه ماشوم يې د زدکړې مهارتونه ښه وي، چې دا کتابونه ورته نه رسيږي:

"د مکتب کتابونه وچ وي، د ماشوم زړه ور سره تنګيږي، خو دا کتابونه په زړه پورې دي، ماشوم يې په شوق لولي، ځکه يې ليک لوست ور سره ښه کيږي. فکر او خيال يې وده کوي او تولنيز مهارتونه، د عواطفو څرګندولو او احساساتو کنټرول يې تر هغو ماشومانو ښه وي، چې دا کتابونه ور ته نه رسيږي."

په دې کتابونو کې ځيني ژباړل شوي هم دي، چې تر ډيره لوستونکی فکر کوي، ليکل شوي به وي، خو بيا يې هم په ځيني برخو کې د ژباړې اغيز شته. لکه: مهربانه پانډه ته تل نورو ته خوښي ور ښني. مهربانه پانډا سوی ته سلام ور کړ. مور ته يې وعده ور کړه.

خو پښتو کې و ايو: مهربان پانډا ته تل نور خوشالوي. مهربان پانډا سوی ته سلام وکړ. له مور سره يې وعده وکړه. شاعر او ليکوال صديق بدر وايي، پښتانه ژباړن ډېر ځلي د خپلې ژبې جوړښت ته د کتلو پر ځای د ژباړل کېدونکې ژبې په اغيز دا ډول تېروتني کوي

.

نوموړی د بېلګې په ډول وايي، که په دري ژبه کې وايي تو ميتواني به بازار بروید، نو پښتو کې يې کټ مټ همداسي ژباړلې ته کولی شي بازار ته لاړ شي، خو پښتو اصلي بڼه يې د اده چې ته بازار ته تللی شې:

"د ماشومانو په کتابونو کې د ژباړې اغيز لا ډېر تاوان لري، دا زموږ ژبې ته تاوان رسوي، زموږ ماشومانو ته ژبه سختوي، ماشومان چې دا ډول جملي لولي، نو زده کول يې ورته سخت وي او په يوه جمله کې د ګنو کليمو راوړل پر ذهن بوج پرېوځي او ماشوم ډېرې کليمي په يو ځای نشي يادولی».

د ماشومانو او کوچنيانو له پاره د يرغل ننګيال د کتاب د ليکلو او چاپ خبر او د نورو نهه اويا کتابونو چاپ او خپريدلو ګزارش زما پر ټول وجود د خوشالي څپې را خورې کړې، د يادو خپرو شوو کتابونو د نورو ليکوالو پته نه وه راسره، چې څه مې پرې ليکلي وای، له دغې ډلې نه که هر يو کتاب ته ما لاسرسي پيدا کړ، زه به يو څه پرې وليکم، خو د اوس له پاره په دې مقاله کې يوازې د تر ټولو ځوان ليکوال يرغل ننګيال د کتاب په باب زه خپل مالومات تاسو درنو لوستونکو سره شريکوم:

د «راځئ چې و شمېرو» د کتاب د خبر په لوستلو سره مې، د ليکوال ګران يرغل ننګيال د پلار په پته د خبر په کامنټ کې داسي ور ته وليکل:

«د يرغل د کتاب چاپ او خپريدل دې ټول افغانستان ته او په ځانګړې ډول د افغانستان زوريدلو کوچنيانو ته مبارک وي.» بيا د نوي نسل د روزلو د فکر په دايره کې داسي خيال را ته پيدا شو چې د اوس له پاره به د يرغل ننګيال د دې ښه نادر کار بايد وستايل شي، څو دی، د ده همځولي او په دوی پسي را روان نسلونه، دې ښه کار ته وهڅيږي، نو مې د يوې مفصلي مقالي د ليکلو هوډ وکړ، د مقالي د غنا او رنګينی په پار مې د دې کوچني ليکوال له پلار، آرش ننګيال نه د مرستي غوښتنه وکړه، زه همدا اوس د ده له مرستو نه مننه کوم.

زما او د آرش ننګيال تر منځ دا پيامونه لاړل او راغلل:

آصف بهاند:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«که امکان ولري ما ته یې پي ډي اِف یا ورد بڼه را ولیږئ چې زه د یرغل جان او نورو کوچنیانو د تشویق له پاره د یوې مقالې په چوکاټ کې، څه پرې ولیکم او خپاره یې کړم.»

آرش ننګیال:
«ډیره مننه بهاند صیب. کور مو ودان. سمه ده، که یونسیف راته پی ډي اف. راکړ حتما یی در لیږم او که را یی نه کړ نو، شعرونه یی در لیږم».

آصف بهاند:
«که بشیر کتاب را ولیږئ، ډیره به ښه وي او که نه د چاپي کاپي څخه یې د لومړۍ پشتي عکس، د کتاب د پیژندنې پوره عکس، که چا مقدمه پرې لیکلې وي د هغو مخونو عکس او ستاسو له نظره یو څو اړین شعرونه چې زه مقاله کې د هغو په ارزښت او د کوچنیانو د ادبیاتو د اصولو په رڼا کې تبصرې پرې وکړم او د شعرونو نمونې یې وړاندې کړم.»

د لومړۍ برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ